مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

حشمت ناصري

۲۰۲۰/۰۶/۰۳

ژوند ښکلی دی!

حشمت ناصري

الله تعالی ژوند ښکلی پیدا کړئ او د انسان د هوسايني لپاره يې پکې هرڅه تنظيم کړي خو دا انسان ته اړه لري چې خپل ژوند او برخليک څنګه ټاکي او خپل د عمر او ژوند څخه څنګه استفاده کوي.

انسان فطرتاً د ژوند په اړه منفی او مثبت فکر لري. که چېرې ستونزې او مشکلات په ژوند کې ډېر شي نو د انسان مخه منفي لور ته اوړي، ژوند بې خونده او انسان ناهيلی شي؛ خو که چېرې سوکالي او پرمختګ سره مخ شي نو بيا د انسان فکر مثبت اړخ ته اوړي، له ژوند خوند اخلي او تل د ژوند او راتلونکي لپاره مثبت فکر کوي.

زما په آند، د ژوند په هره مرحله کې د الله تعالی يو حکمت پروت دی. که چېرې د انسان په ژوند کې سختي نه وای نو انسان به کله د هوسايني په خوند پوهېده؛ همدا سختي ده چې انسان دې ته اړباسي ترڅو د هوسايني، پرمختګ او سوکالی په لور ګام پورته کړي.

د ژوند په هره مرحله کې مثبت فکر درلودل ډېر اړين دي. مثبت فکر انسان ته قوت ورکوي، انسان هدفمند کوي، انسان پياوړي کوي او انسان سره مرسته کوي ترڅو ټاکل شوي موخې ترلاسه کړي.

ما د ژوند ۳۵ کلن مزل ډېر اوږد او له سختيو ډګ مزل وو؛ کله کله به په ژوند کې ډېر ناهيلی شوم او له ځان سره به مې ويل: "همدا چې درې وخته ډوډۍ راته مساعد شي کافي ده"

هيڅ کله به مې دا فکر نه کاوه چې سختي به تېرې شي او زما په ژوند کې به د روښنايي دروازې پرانيستل شي. خو هغه څه چې زه ژوند ته اميدواره کړئ وم زما موخې او اهداف ول چې په ريښتني توګه مې د هغو د ترلاسه کولو لپاره زيار باسه.

د ژوند په دې اوږد مزل کې له راز راز ننګونو سره مخ شوم، ټولنيز حساسيتونه، بې شمېره مالي او اقتصادي ستونزې او د خلکو نامناسب برخورد له ما او زما له کورنۍ سره؛ هغه څه ول چې زه يې ډېر وکړولم. کله چې نسټوړی سپور وو په ټولنه کې به خلکو له موږ سره بل ډول چلند کاوه او ډېرۍ به له ټولنيزو او قومي مراسمو څخه بې برخې وو.

ښه مې يادېږي کله چې ما غوښتل دنده واخلم، ۱۱ موسسو او دولتي ادارو ته مې خپله سي وي واستوله او له ۱۱ مرجعو څخه مې منفي ځواب ترلاسه کړ؛ دا منفي ځوابونه هيڅ کله مات نکړم بلکې ماته يې دا قوت راکړ ترڅو نور هم زيار وباسم او ټاکلي شوي موخې ترلاسه کړم. او همداسې هم وشول!

زما ۳۵ کلن ژوند ماته دا درس راکړ چې د هرې سختۍ پسې هوساينه او د هرې تيارې پسې روښنايي ده؛ د ناهيلی څخه زيار او کوښښ غوره کړئ او د ژوند د هرې مرحلې څخه خوند واخلی.

کاميابه انسان هغه دی چې ژوند کې مشخص اهداف ځانته وټاکي او د خپلو اهداف د ترلاسه کولو لپاره په ريښتني توګه کوښښ وکړي او هيڅ کله په ژوند کې ناهيلی نشي. ناهيلي انسان کمزوری کوي او ناهيلي نه يوازې د خپل شخص بلکې د کورنۍ او ټولنې لپاره هم ګټور نشي تمامیدای. مثبت فکر درلودل او د ژوند د هرې مرحلې څخه خوند اخيستل ضروري ده.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ